# د زیتون بانو په افسانو کښې د ښځینه کردارو تحقیقي څېړنه

## (د تحلیل نفسي په رڼا کښې)

## Psychoanalysis on Female Characters In ZaitoonBano's Short Stories

روبینه نور*

**Abstract**

In this paper, I have shed light on the short stories of ZaitoonBano . Among the prominent short story writers of post-independence, Ms. ZaitoonBano is the one of the leading personalities in the world of literature. Being prominent writer, she has discussed matters pertaining to women of Pashtoon society boldly and frankly. Her short stories undoubtedly stand at the standard of international literature. Here in this research paper, I have analyzed female characters in her short stories in the light of psychoanalysis which has not yet been explored by the researchers in Pashto literature. Readers would read introduction to the Short Stories ,ZaitoonBano's life , her litererary career and contribution of zaitoonbano in Pashto and Urdu literature psychoanalysis and different tools of psychoanalysis. Moreover, I have quoted some samples from her stories to show a clear picture of her unconscious thoughts and feelings for the betterment of pakhtoon society.

**Key words:**Psychoanalysis,ID,Ego,Superego,Consciousness, Unconsciousness, Sub consciousness , Defence mechanism.

زیتون بانو د پښتو ادب یو ځلانده ستوری دی. دې په پښتو ادب کښې په بېلابېلو اصنافو د خپل قلم څوکې وچې کړې دي.زیتون بانو د خیبر پختونخوا د خلیلو د ټبر یو مشهوره کلي سپینه وړۍ کښې پیدا شوې ده ، د پلار نوم ئې سید سلطان دی او پلار ئې پخپله هم یو ښه تکړه لیکوال ؤ، او د علمي کورنۍ څخه ئې تعلق درلودی.د دې د زیږېدنې په هکله همېش خلیل په خپل کتاب "پښتانه لیکوال" په دوهم ټوک کښې داسې لیکي.

"بانو د پېښور تحصیل په "سپینه وړۍ"نومې کلي کښې د پیر سلطان محمود کره په کال ۱۹۳۸ د جون د میاشتې په اتلسمه نیټه پیدا شوې ده."(1)

اغلې د پښتو ژبې یوه وتلې لیکواله، شاعره، افسانه نګاره، ډرامه نګاره او خبریاله ده. زیتون بانو د پښتو هغه ښځینه لیکواله ده چې د خپل لیک د لارې ئې د مېرمنو ښځینه احساسات د هغو غوښتنې او فکر ئې په خپلو افسانو کښې راونغښت او د ښځینه او نارینه لیک تر منځ ئې کرښه

* M.Phil. Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

راویستله او دا ئې ثابته کړه چې ښځې په یوهٔ میدان کښې هم تر نارینه شاته نه دي. دې په خپل وخت کښې معیاري او نړیوال ادب تخلیق کړی ؤ.

د زیتون بانو تربیت په ادبي او تعلیمي ماحول کښې شوی و، هم دا وجه وه چې د دې ذهن فطري طور د ادب وخواته ؤ، خو زیتون بانو ته په ښکاره توګه د خپلو احساساتود څرګندوني اجازه نه وه. په دې هکله بانو خپل تخلیقات په فرضي نامهٔ چاپول.

نن ورځ پښتني ښځې د پخوا پرتله ډېر قدر پیدا کړی دی ولی چې نن سبا د ښځو او د ښځو د حق فعال کېدو دپاره ډېري ادبي او کلتوري هلي ځلي کېږي. دوی اوس په پارلمان کښې د غړو په حېثیت کار کوي خو بیا هم د دوی د میراث د حقونو، د تعلیم حق، د روغتیا ساتني، دغیرت په نامه د ښځو قتل، د کورنۍ تاوتریخوالی او د نورو مسلو د حل لپاره اوږده لاره پاته ده.

د زیتون بانو د شخصیت په اړه که موږ خبره وکړو نو دا به ووایو چې د دې فطرت د پښتونوالي او د ادبي فکر امتزاج دی، دا پیدائشی ذهینه نجلۍ وه .طبعاً د ادب وخواته مائله وه..

زیتون بانو د وړوکوالي څخه لیک پېل کړی دی،او په بېلابېلو رسالو او اخبارو کښې به ئې په فرضي نومانو خپلي افسانې چاپولې ولي چې دې ته د پلار لخوا په آزادي سره د لیک اجازه نهٔ ورکړل شوې. په پښتو ژبه د زیتون بانو تر اوسه ۹۷ افسانې چاپ دي، په هغه کښې د افسانو ۵ مجموعې دي،او په اردو کښې ئې هم افسانې چاپ دی،زیتون بانو خپلي اولنۍ افسانې په فرضینومانو چاپ کړې دي لکه: "شغله ،رضیه بانو". زیتون بانو د پېښور اولنۍ افسانه نګاره ده،چې کتاب ئې چاپ دی.

. د دې د لیک په هکله زرین انځور وائي،

> " زیتون بانو د پښتو کیسه لیکني هغه نومیالۍ پاته شوې ده چې کیسي ئې د پښتني ښځو د ژوند په هندارو بدلي کړې دي او له همدې کبله ئې زموږ په ټولنه کښې د ښځو د ښکاره او پټ ژوند یا په حقیقت کښې د ښځمنو د ژوند د ښکاره او پټو اړخونو دقیقه څېړنه کړې ده . مخکښې له دې چې د هغې د داستاني لیکنو پر ځانګړنو وړغېږو د هغې او د هغې د کیسو معروفي ته هم تم کېږو ."(2)

زیتون بانو د خیالي داستانو څخه پرته په خپله لیکنه کښې د عام ژوند خبري کوي. هغه کله هم داسی خبره نه کوي کوم چې موږ په عمومی ژوند کښې نهٔ یو ورسره مخامخ شوي او په افسانه کښې ئې داسی ماحول جوړ کړی دی چې په کوم ماحول کښې چې موږ وسېږو.

**تحلیل نفسی څه دی ؟**

لفظي معنا که موږ راواخلو نو تحلیل نفسي په بنیادي توګه د انګرېزي توری د psychoanalysis اردو ترجمه ده او بیا دغه توری موږ په پښتو کښې هم کارو. موږ که د انګرېزی دغه توري باندي ځان پوه کړو نو به داسی وي،

تحلیل د عربي ژبي ټکی دی چي معنا ئې ده حل کول، نو داسي بیا د تحلیل نفسي معنا ځیني جوړېږی، د نفسیاتو د لاري د یو مسلې حل پیدا کول.

د تحلیل نفسي تعریف پروفیسر ډاکټر نصیب الله سیماب په خپل کتاب کښې داسي کوي:

"د علم نفسیاتو "اروا پوهني" اصطلاح ده چي په کره کتنه کښې رواج لري د نفسیاتو په علم کښې تحلیل نفسي خاص شهرت لري د دې نظرئې وړاندي کونکی سګمنډ فرائډ دی "(3)

هم داسی سلیم اختر د تحلیل نفسي تعریف داسي کوي:

"تحلیل نفسی شخصیت اور ذہن کی لاشعوری کارکردگی کی اس سائنس کا نام ہے جسے سگمنڈ فرائڈ نے اور اسکے شاگردوں کی تین نسلوں نے پروان چڑھائی "(4)

**ژباړه**: تحلیل نفسي زموږ د شخصیت او په لاشعوری توګه زموږ د ذهن سائنس دی چې موږ ځان په پوه کوو ، فرائډ او د هغه د شاګردانو درو نسلو دغه سلسله پر مخ بیولې ده.

فرائډ وائي چې زموږ لاشعور زموږ د غوښتونو او د خواهشاتو مرکز دی ، موږ چې کوم کار کوو په هغه کښې زموږ د لاشعور ډېر کار وي . فرائډ و لاشعور ته ترجیح ورکړې ده. د دا په نیز زموږ په ژوند کښې لاشعور پر موږ ډېر اثر اچوي، موږ د یو دباؤ شکار یو، د دغه دباؤ وجه زموږ ټولنه ، د ټولني اصول او د دې پابندي ده . موږ په دې دنیا کښې ډېر خواهشات لرو او موږ د خپلي ټولني څخه دا غواړو چې زموږ خواهشات راپوره کړي، په موږ کښې دغه پټو خواهشاتو یو دباؤ جوړ کړی دی.

د دې نظریه ۳ حصې دی.

- "Structure of personality [id ,ego, super ego]
- Personality dynamics [consciousness , unconscious , preconscious , non conscious]
- psychoSexual development
- Defence mechanism"(5)

**ژباړه**:

- د شخصیت جوړښت [ ائی ډی ، ایګو ،سپر ایګو]
- د شخصیت محرکات [شعور ، لاشعور ، تحت الشعور]
- د نفسیاتو پرمختګ
- دفاعی طریقه کار

"**Structure of personality :**

Three major systems of personality:
•**Id** (in unconscious)—contains everything psychological that is inherited .Id is"Give me, I want," irrational, self-centered; guided by the *pleasureprinciple*.
•**Ego** (partly conscious, partly unconscious)—mediates between

instinctual needs and conditions of the environment to maintain our life and guided by the *reality principle*.
•**Superego** (partly conscious, partly unconscious)—is composed of the conscience that punishes us , tell us about good and bad by, that rewards us by making us feel proud of ourselves"(6)

**ژباړه**:

د انسان د شخصیت دجوړېدو عوامل داسې راښیي: د دې څخه مراد دا دی چی زموږ ټول شخصیت پر درو شیانو ولاړ دی لکه ای ډی ، ایګو ، سپر ایګو.

پیدائشي طور زموږ د غوښتنو دپاره چې کوم څۀ کار کوي هغه زموږ اډ ئی چې په لاشعور کښې کار کوي. اډ زموږ د خواهشاتو تکمیل غواړي.ایګو هغه شعور دی چی هغه د شخصیت سره اړه لري چې په لاشعور کښې ځان ساتي خو زیاتره برخه ئې په شعور کښې هم کار کوي، یو دای د id او super ego تر منځ کار کوي او زموږ اډ او سپر ایګو کنټرول دی. زموږ شاوخوا چې کوم ښه او بد کارونه کېږي په هغه کښې ځان بیلنس کوي ایګو د حقیقت پر بنیاد ولاړه ده او په سپر ایګو کښې زموږ دپاره کوم ښۀ دیاو کوم بد دي دا موږ ته د سپر ایګو لخوا راښودل کېږی، دا هم شعوري او لاشعوري په دواړو عواملو کښې کار کوي.

**د شخصیت محرکات ،شعور ، لاشعور ، تحت الشعور** :

فرائډ د ذهن درې درجې بیان کړې دي: شعور، لاشعور او تحت الشعور .

"Freud described three levels of the mind: the conscious, preconscious, and unconscious. The **conscious** includes everything ofwhich we are aware at a particular moment. Just below the level ofconscious awareness, the **preconscious** contains thoughts, memories, feelings, and images that we can easily recall. Generally inaccessible toour conscious, the largest part of the mind, the **unconscious**, teems withwishes, impulses, memories, and feelings. Threatening thoughts orfeelings can be repressed or pushed into the unconscious. Glimpses of the unconscious are revealed through slips of the tongue and our dreams"(7)

**ژباړه**:فرائډ د ذهن درې درجې بیان کړې دي: شعور، لاشعور او تحت الشعور ، په شعور کښې هر څۀ شامل دي کوم چې موږ دا وخت خبر یو. د شعور لاندې زموږ تحت الشعور دی په هغه کښې زموږ فکرونه، یادونه، احساسات، او انځورونه چې موږئې په اسانۍ سره یادولی شو. د دې وروسته زموږ د ذهن لویه برخه، لاشعور شروع کېږی، په دې کښې هغه یادونه او احساسات، فکرونهوي کوم چې نه وي پوره شوي نو موږ ئېلاشعور کښې پټ کړو ، دغه احساسات او خواهشات هغه وخت ځان ښکاره کوي کوم وخت چې زموږ خلۀ خطا شي یازموږد خوبونو د لارې هم ښکاره کېږي.

**د نفسياتو پر مختک**: يو کس چې ژوند تېروي نو د پيدائش څخه تر مرګه پوري دی د پنځو مرحلو څخه تېرېږی، او که په دې مرحلو کښې يو څۀ کمي بېشي راشي نو و هغه انسان ته په لوی عمر کښې احساس محرومي پيدا کېږی ، دغه پنځۀ پړاونه دا دي:

**Oral stage**"

دغه طريقه د پيدائش څخه تر ۲ کالو پوري يو انسان په استعمال کښې راولي، دا طريقه موږته د لاشعور لخوا راښودل کېږی خپل د خواهشاتو تکميل دپاره د خُلې استعمال کوي او رودنګو څخه خپل تسکين کوی.

**Anal stage**

دغه طريقه کار يو انسان له۲ څخه تر ۴ کالو په عمر کښې شروع کوي. په دې مرحله کښې يو ماشوم bowl and bladder control يعني د بيت الخلا په استعمال ځان پوه کوي.

**Phalic stage**

دغه مرحله د ۳ څخه تر ۶ کالو عمر څخه شروع کېږي، په دې مرحله کښې يو انسان خپل په جنس ځان پوه کوي.

**Latency stage**

دغه مرحله د ۶ څخه تر ۱۲ کالو په عمر شروع کېږی په دې کښېيو انسان د ډېر معلومات د حاصل کېدو هڅه کوي.

**Genital stage**

په دې مرحله کښې يو انسان په دې شي ځان پوه کوي چې موږ د مخالف جنس سره څنګه ژوند کولی شو"(8)

**mechanism : Defence**

داهم زموږ د لاشعور يو عنصر دی. دا موږ د پريشاني څخه ژغوري، د يو شي بدل پيدا کوي يعني که زموږ غوښتنه نه پوره کېږی نو دی موږته زړۀ يا حوصله راکوي.

**“Positive defence mechanism:**
Sublimation undoingrationalization compensationrepressionprojection
**Negative defence mechanism**
Displacementprojectionregressiondissociation denielreaction formation’’(9)

**د تحليل نفسي طريقه کار**:

په ادب کښې د تحليل نفسي دغه څلور طريقې کارول کېږي

Dream Analysis"

Free Association

Transference Analysis

Freuidian’s slip of tongue

**Dream Analysis :**

په دې طریقه علاج کښې به فرائډ د انسان د خوبو څخه کار اخستی او د مریض د خوبو د لارې به ئې و لاشعور ته ځان رسوي او خپل د نفسیاتي مریض ستونزې ئې معلومولې چې یو نفسیاتي مریض په کوم کشمکش کښې مبتلا دی. فرائډ وائي د خوبو دوې حصې دي یو ته manifest او بل ته latent part وئیل کېږي.

**Menifest part**

په داسې خوبو کښې موږ مختلفه خلک او ځایونه وینو، د فرائډ په طریقه علاج کښې داسې خوبونه هیڅ اهمیت نه لري.

**Latent part**

په داسې خوبو کښې زموږ د خواهشاتو څرګندونه کېږي، یعني داسې خوب چې موږ معنا هم ځني اخستلی شو، د مثال په توګه که زۀ په خوب کښې د عمران خان سره خپل ملاقات ووینم یا زما په خوب کښې ماته ګولډ میډل راکړل شي، نو به د دې خوبو معنا موږ داسې اخلو چې اصل کښې زما دغه خوبونه زما په لاشعور کښې د یو نۀ پوره شوي خواهش په بڼه پراتۀ وي. نو یو د نفسیاتو ماهر د دې خوب خوبو معنا په دا توګه اخلي.

**Free association**

په دې طریقه علاج کښې یو ماهر نفسیات مریض ته پر سکونه ماحول ور جوړ کړي، بیا دغه معالج خپل مریض ته وائي چې دا وخت چې ستا په ذهن کښې کومې خبرې راځي هغه زما سره شریکه کړه، په دې وخت کښې د مریض سترګې پټې وي، او خپل ځان د دې ماحول څخه وباسي، پر ذهن زور راولي چې کومې خبرې ئې په ذهین کښې راځي هغه کوي. نو داسې د نفسیاتو ماهر د دې د خبرو څخه د نفسیاتي ناروغۍ د وجوهاتو قیاس کوي او علاج ورته پیدا کوي . په دې طریقه علاج کښې یو معالج ته دا پکار دی چې خپل مریض په اعتماد کښې واخلي او دغه مریض پر خپل ډاکټر پوره بهروسه لري.

**Transference analysis**

په دې طریقه علاج کښې د معالج او د مریض دوستي ډېر اهمیت لري. او دې دوستي په وجه یو نفسیاتي مریض خپل معالج ته د زړۀ حال وئیلی شي، دې ته positive transference وئیل کېږي خو کله کله دا رشته منفي رنګ خپل کړي نو د مریض خپل د معالج څخه بد کېږي نو په دې سبب دی دا نۀ غواړي چې زۀ جوړ سم او د مریض د خپل معالج د ملاقات د وخت څخه هم بد کېږي، دې ته negative transference وئیل کېږي.

**Fruedian slip of tongue**

فرائډ وائي چې کله کله موږ یوه خبره کوواو زموږ خُلۀ خطا شي او در خُلې مې بله خبره ووځي، نو اصل کښې دغه زموږ لاشعوري رازونه موږ ووایو، د دې څخه هم نفسیاتو ماهر کار اخلي."(10)

**په ادب کښې تحلیل نفسي** :

د فرائډ نظریه تحلیل نفسي په ادب کښې نوی انداز او اسلوب ور وبخښي ، په ادب کښې د تحلیل نفسي دا کار دی موږ چې یو ادیب د فن پارې څېړنه کوو نو دا د فن پارو د لارې موږ د یو ادیب د ذهني کیفیات کوم چې د تخلیق پر وخت وو، او هغه حالات کوم چې یو تخلیق کار و تخلیق ته مجبوره کړي د هغه معلومول دي, د بېلګې په توګه: که یو ادیب د تعلیم ډېر شوق لري نو د دا په فن پارو کښې به د تعلیم ستائنه شوې وي، د تعلیم اهمیت به په دې کښې شتون لري. په فن پاره کښې به رول ماډل هم ډېر تعلیم یافته وي. یو نفساتي نقاد د خپل تحقیق د لارید یوې فن پارې مفهوم او معنا داسي رابرسېره کړی چې د تخلیق کار ذهني عکاسي دي وشي.

**فرائډ او تحلیل نفسی** :

فرائډ باقاعده یو ادیب او نقاد نه ؤ خو د ادب شوقي ؤ، د ادب د لارې ئې د لیکوال وه نفسیات ته ځان رسوی فرائډ وائي چې یو ادیب په خپل تخلیق کښې هغه څۀ راوړیوي کوم چې دا خپل په لاشعور کښې د دنیا څخه پټ ساتلي وي خو یو ادیب دا هم غواړي چې زما په احساساتو خلګ خبر شي.

**د افسانو د کردارونو تعارف**:

زیتون بانو د پښتو ادب هغه لیکواله ده چې د ټولنی عکاسي په خپل قصو کښې کوي، د یوې پښتنې ښځې د ژوند بېل بېل عکس ننداره د دې په افسانو کښې کېږي. د ښځینه کردارو په حواله که موږ خبره وکړو بانو په خپلو افسانو کښې د ښځو د ژوند هر اړخ موږ ته رانښکاره کړی دی، هغه که مور وي، که لور وي، خور وي او کورنۍ ښځه او یا که خپل روزګار دپاره وځي د هر فیلډ په ښځې باندی بانو مجلس کړی دی .

**د زیتون بانو د لاشعور څېړنه د هغې د کردارو په رڼا کښې**:

د انسان لاشعوري افکار و ړومبي هدف د دې انسان خپل ذات سره تړلې ستونزې رابرسېره کول دي، نن سبا په نفسیاتي څېړنه کښې د داخلی قوتونو ذکر کم کېږي، اوس ټول بحث د شعور او لاشعور په اصطلاح ګانو کښې کېږی .په تحلیل نفسي کښې د مسائلو تعلق د شعور او لاشعور سره وي . بانو هم په خپل لیک کښې ځان جوخت کړی ساتلی دی، او د خپلو تخلیقاتو سره ئې انصاف کړی دی. د زیتون بانو د ژوند څخه ماته د دې هغه لاشعوری محرکات په مخه رالو کوم چې زیتون بانو و لیک ته مجبوره کړې ده.

**د زیتون بانو د ښځینه کردارو انتخاب**:

زیتون بانو د پښتو ادب هغه لیکواله ده چې د ټولني عکاسي په خپلوقصو کښې کوي، د یوې پښتنې ښځې د ژوند د بېلابېلو عکسونو ننداره د دې په افسانو کښې له ورایه څرګند ېږی . د ښځینه

کردارو په حواله که موږ خبره وکړو بانو په خپلو افسانو کښې د ښځو د ژوند هر اړخ موږ ته راښکاره کړی دی.

بانو د افسانو د لارې په ټولنه کښې د ښځو په صلاحیت، اهمیت، محرومی او ستونزو خبرې کړې دي.د ښځینه تعلیم اهمیت ته پاملرنه د بانو د قصو یوه مهمه موضوع ده او دا د دې د افسانو ځانګړتیا هم ده، ولی چې د بانو په افسانو کښې اکثره ښځینه کردارونه یا خو تعلیم یافته وي او یا پیشه ور وي.

په هنداره افسانه کښې د دلشادې کردار د یو داسې مور کردار دی چې خپل زوی خپل ایمان ګڼي خو دلشاده د کونډوالي وروسته خپل نازولی زوی قمر ګل په یوه انه خرڅ کړې او دغه وجه وي چې دلشاده په خپل زوی پسې لېونۍ هم شي، د دې قصې پېل داسې کېږي:

> "هسې خو د هغې نور کړۀ وړۀ د لېونو نه ؤ، خو تپوس به دې ترینه وکړ چې، دلشادې! ځوی دې څۀ کړو، نو ځواب به ئې درکړ، بي بي هغه مې خرڅ کړو، په څو دې خرڅ کړو؟ بي بي په یوه آنه، نو یا خو به دی ګمان وشو چې په رښتیاو لېونۍ ده او یا به درته د دې یوې آنې قیمت څۀ ډېر زیات ښکاره شو او په دې سوچ به مجبوره شوه چې دا یوه آنه زموږ په ژوند کښې څومره اهمیت لری."(11)

د کوټې ستن د بانو یوه افسانه ده په دې قصه کښې مور د کورنۍ راټولیدو یو مرکز دی، د دې قصې پېل داسې کېږي:

> "مطیع الله استاذ نن بلکل یوازې شو، بلکې جاوید الله هم ترې نن کډه یوړله او مطیع الله استاذ په کور کښې چې یوازې شو نو پټکې ئې په سترګو کېښودو او لکه د زنانو ئې ښه په بغارو بغارو اوژړل."(12)

"ګوټ پېر" په نامه افسانه کښې د سپین سرې ضعیفې مرکزي کردار وي او کونډه هم وي، دا کونډې خپل زوی د کرښې پخېدو او خرڅېدو په ذریعه خپل زوی لوی کړی وي او کله چې د دې زوی ځوان شي کاروبار ئې برابر شي نو د مور قدر ځنیپاته شي، د دې افسانې په پائله کښې بانو داسې وائي:

> "نه یمه پوی چې موږ نه دا زاړه ضعیف مئیندې پلاران نیا نیکونه دومره زر ولې هېر شی؟ دا شاید دې دپاره چې موږه به ټول عمر ځوانان یو او چیری به هم نه زړېږو."(13)

منزل د خوبونه مجموعې څخه یوه افسانه ده. په دې افسانه کښې د داسې ادې جانې ذکر راغلی دی چې د خپل سپین ژرې خاوند سره ژوند تېروي او خپل اولادونه ځنې جلا شویوي، دا سپین سرې په دې تېر عمر هم د کور ژوند کوي. په دې حال کښېدا و بل ته مجبوره وي خو یو چا ته هم تمه نه شي کولای. له دې حوالو څخه موږ دا ثابتوو چی په لاشعور توګه زیتون بانو د یو داسی مور په کردار کی ده چی هغه د محرومی ښکار ده داسی ولی ده ، د دې دا وجه ده چی د بانو ژوند د داسی کیسو سره په یوه نه یوه حواله تړون لری .

زيتون بانو هم د جنسي موضوعاتو په اړه بې دریغه لیکني کړې دي، د پښتو افسانه ئې د جدید رجحانات سره ولده کړې ده، بانو په اصل کښې د انسانی ټولنه د نفسیاتو په اړه چې کوم شی محسوسه کړی دی هغه ئې خپل په لیک کښې راوړي دي، بانو په داسي حساسه موضوع کښې نوښت راوستلی دی، ولی چې آغلې یوه حساسه او ژمنه هنرمنده لیکواله ده. د بانو د افسانوي مجموعه ژوندي غمونو څخه د شوې پانه، کخې او چیلمچی د جنسي روانیقصو نمونې دي. د شوې پانړه کښېد شمو داسي کردار ده کوم چې د روایتی پښتني چاپېرچل په پابندیکښې راګیر شوې پیغله وي. دا پیغله د داسي بندیزو په وجه د ساه ډوبیدو په کېفیت کښې مبتلا وي، شمو په لاشعوری توګه د داسي پابندۍ څخه د تښتېدو لاره لټوي، د کخی قصه هم د جنس په اړه یوه په زړۀ پوری قصه ده، چې یو ظالم پلار خپله لور په کور کښې ساتلې وي، خو لور ئې د نوکر لخوا امیدواره شي. د ژوندي غمونه مجموعه څخه چلمچی افسانه هم د ښځو د جنسي محرکاتو په اړه زیتون بانو تخلیق کړې ده، دا اوږده افسانوي بڼه لري، چی د یوې ډاکټری ژوند څنګه په چل او فریب د دوو ډاکټرانو له خوا تباه کېږي او د ملګرتیا او راتلونکي شریک ژوند په وعدو ئې له ژوند سره لوبې کېږي. په نېز وړی مجموعه کښې یوازې د داسي پېغلیقصه ده چې عالمه او د قرآن حافظه هم وي. کوم وخت چې د دې مور او پلار مړۀ شي او وروڼه ئې د خپل کاروبار شي نو بي بي مریم یوازې پرېږدي. داسي یوازی ژوند کښې بیا دا حافظه د شپې لخوا نارامه وي. د دې دا فکر وي چې د شپېلخوا په کټ ورسره یو څوک پرېوزي، دې ته په سوچ کښېپیری هم ورځیچې کېدای شي دا به پیری وی، خو بیرته بیا دا خپل ځان ووینی چې دا پخپله ده. د دې سپوری دی، د دې وهم دی او یا د دې اروا ده. د بانو جنسیقصې د ښځو د ژوند پټو ارمانونو عکاسي کوي. دا کیسې ځکه حقیقی صورتحال رامینځ ته کوی چی دا یوې شځینه لیکوالی لیکلی دی او د ښځو د لاشعور نمائندګی یې ډیره په سالمه توګه کړی ده. هم داسي د زیتون بانو د افسانوي مجموعه هنداره څخه تصویر د میني محبت یوه کامیابه ټوټه ده چې د یوې نجلۍ او هلک پټه مینه و تکمیل ته ځان ورسوي. هم داسي ټانګې وال هم د میني عامه قصه ده خو بیرته بیا تېلی په دې افسانوي مجموعه کښې د شها د میني یوه نا مکمله قصه بانو تخلیق کړې ده چې څنګه د دې افسانې مرکزي کردار د خپل کور بندیزو برسېره د یو څو شپو مېلمه په مینه کښې ځان واچوي او هغه هم داسي مینه کښې چې یک طرفه وي او داسي مینه کله هم پای ته ځان نۀ رسوي. داسي د مات بنګړی څخه د ببوزی افسانه کښې بانو د یو داسي ځیلي د قېشو کردار ذکر کړی دی کوم چې د خپل خاوند ظلم او جبر زغمي هغه غواړي چې د خپل خاوند برخلاف آواز پورته کړي خو بیا هم په کلیکښېد خاوند بې عزتي نه کوي. ګنګخړې افسانه کښې بانو د یو داسي نجلۍ کردار نګاري کړې ده چې شها نومېږی او د مراد په مینه کښې مبتلا وی خو دا د خپلي میني قرباني ورکړي او د خور د بچیانو د ساتولو دپاره د خپل کونډ اخښی سره د وادۀ فیصله وکړي.

د دې افسانې پېل داسی کېږی:

"اوس اوس چې شها د کومي زول سپلۍ نه راتېره شوې وه د هغې نخښې د هغې په مخ څرګندې ښکارېدې، هغې د خپل ذهن د تنور او په ډېره ګرانه راقابو کړې ؤ چې د هغې جذبات ئې سوزولېؤ، خو هغې د هغه اور لوګي قدر له هم چاته ښودل نه غوښتل ځکه ئې د خلې نه اسویلي نه ختل خو د هغې د سر نه لمبې ختې، پښې ئې ټولې رپېدې، لاسونه ئې هم رېګدېدل او د هغې ټول وجود غنې غنې کېدو، هغې لاسونه خپلو کښې مښل، شونډې ئې چیچلې او په خپله کمره کښې بې مطلبه ګرځېده راګرځېده."(14)

د ګونګۍ افسانه کښې زیتون بانو داسي دوه متبادل کردارو انتخاب کړی دی چې یوې ته الله پاک ښه اخلاق ورکړي دي خو د ژبې څخه ئې محرومه کړې ده او بل خواته بیا یو داسي کردار دی چې په ښه ښائسته جامه کښې د ګونګۍ په شان ناسته وي، الله پاک د ښائست سره سره د ژبې نعمت هم ورکړی وي خو دا ژبه د ډېره کبره او غروره د وجه استعمال نۀ کوي.

د ښځینه کردارو په لړ کښې زیتون بانو ټولنیز موضوعات هم چېړلی فنکاره هم په ټولنیز موضوع یوه افسانه ده په دې کښې روئیده داسي کردار دی چې د فنکاری ډېر شوق لري او د خپل خاوندسپورټ ورته حاصله وي دا چې په سټېج کومه د فنکاري ننداره کوي نو د دې خاوند ئې ستائنه کوي. د دې په بدل کښې زیتون بانو په دې افسانه کښې داسی کردار انتخاب کړی دی چې ثمرۀ نومېږی، کوم چې په عمومي ژوند کښې د خپل کور ساتلو دپاره په عام ژوند کښې فنکاري کوي په عدالتو کښې د جدا جدا کردارونه ادا کوي کله د ګواهي دپاره د یو چا مور شي او کله د یو چا خور شي، خو د ثمرۀ په دې فنکاري کښې هیڅ ستائنه نه کېږی، بلکی د خلګو لخوا ئې سپکاوی کېږی ، به ظاهره د روئیده او د ثمري دواړې فنکاري کوي خو د فنکاري طریقه ئې جلا وي، روئیده هم و دې شیته حیرانه وي او د دې افساني اختتام هم د روئیده د حیرانتیا سره وشي.

"او روئیده اخبار په لاس حیرانه ولاړه،دې سوچونو وړې وه، چې هغه پخپله لویه فنکاره ده، دا چې اېوارډونه اخلی او که نه ، کنه ثمرۀ لویه فنکاره ده چې د چا لور شي د چا خور شي د چا ښځه شي او خپلو بې وسه بې کسه وړو وړو یتیمانو له دوه پیسې پیدا کوی".(15)

ګونګی پیریان د زیتون بانو یوه داسی قصه ده چې د ښځي نفسیاتي مطالعه موږ ته په مخه راځي. زموږ شاوخوا اکثره موږ داسي کیس وینو چې یو کس د خپل داخلي کشمکش اظهار نۀ کوي نو د نفسیاتي ناروغتیاو ښکار شي او داسي اکثریت د ښځو وي ولې چې موږ ته معلومه ده چې ښځه په ښکاره خپل د احساساتو څرګنده نه شي کولی ولې چې دا د ټولنیز بندیزونه ښکار وي او داسي انسان نفسیاتیناروغان شي او بیا زموږ پښتانۀ و دې کیس ته د پیرانانو نوم ورکوي چې پر پلانۍ

پيرانان ښکاره شو يا پيرانانو ونيول.د بانو په افسانو کښې دا ټول داسې کردارونه دي چې موږ ئې په عمومي ژوند کښې وينو خو د دوی په نفسياتي کشمکش باندی ځان نه خبروو.

د زيتون بانو د ښځينه کردارو نفسياتي څېړنی وروسته زۀ په دعوې سره دا وئيلی شم چې زيتون بانو يوه confident افسانه نګاره ده ولې چې هغې په ښکاره توګه ته ښځو په احساساتو ليکنې کړې دي، او د ښځو نفسياتي محرکاتو سره ئې خپله ټولنه ولده کړې ده او د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې زيتون بانو د هر دور ښځې د مسئلو جاج اخستی دی او د دې نوي عصر د غوښتنو سره ئې ښځه مخامخ کړې ده.زيتون بانو چې په کوم انداز د ټولنې عکاسي کړې ده، دا رنګه عکاسی يوه ښځينه ليکواله کوالی شی ، زيتون بانو په هر کردار کښی ښځه انځور کړی ده و د دې دا انځور ګری د ښځی د داخل انځور ګری ده چی د تحليل نفسی په رڼا کی موږ دا ګټو چی دا يوه ښځه ښه کوالی شی څکه چی ښځه دا ښځی په داخل ښه پوهيږی او په کردار کی خپل ځان ورته نمايا وی.

## حوالې


1. خلیل همېش ، ۲۰۱۱ ، پښتانهٔ لیکوال ، دوهم ټوک ، یونیورستي پبلیشرز افغان مارکیټ پېښور . مخ ۱۲۲
2. لیکني، October December 2020، پښتو اکېډمي بلوچستان کوټه. مخ ۸۷
3. سیماب ، ډاکټر نصیب الله، ۲۰۱۹، د کره کتني اصطلاحات، نوی اېډیشن ، پښتو اکېډمي بلوچستان کوټه ، مخ ۱۱۶
4. اختر، ډاکټر سلیم ،نفسیاتي تنقید ، مجلس ترقي ادب کلب روډ ،لاهور ،مخ ۵۳
5. https://youtu.be/dZxg9zRAXmo
6. Maitland_lincoln_laura 2010 _5 steps to A5 Ap Psychology _MCGraw_ Hill company_ page 348
7. همدغه، مخ ۳۲۶
8. https://youtu.be/9FWMVneQe6g
9. https://youtu.be/ihnrdNr6G4o
10. https://youtu.be/heVfeTMLajQ
11. بانو _زیتون فروری ۲۰۱۵ "د شگو مزل" محکمه ثقافت حکومت خیبر پښتونخوا ,مخ ۴۳۲
12. همدغه ، مخ ۳۲۷
13. همدغه ، مخ ۸
14. همدغه ، مخ ۵۵
15. همدغه ، مخ ۱۴